**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

**د افغانستان اسلامي امارت**

**د امر بالمعروف نهی عن المنکر، جلب او جذب او د شکایتونو اورېدو وزارت**

۱۴۴۳.۵.۲۵هـ ق

**مولوي عارف:**

محتسبین د دین داعیان دي او په غوره اخلاقو سره خلک نېکو او د خوښۍ ورې کارونو ته رابولي. مولوي محمد یحی عارف، د امر بالمعروف او نهی عن المنکر، جلب او جذب او د شکایتونو اورېدو وزارت د روزنې او اصلاح رئیس د اتمې حوزې له محتسبینو سره یې ولیدل، د جهاد موخو او په امنیتي حوزو کې د خپلو فعالیتونو په اړه یې وینا وکړه. مولوي عارف د اشغالګرو پر وړاندې د جهاد بریالیتوب ته په اشاره وویل: "له هیواده د اشغالګرو تر شړلو وروسته، اوس بنسټیزه موخه په هیواد کې د اسلامي نظام او الهي قانون پلې کول دي". د روزنې او اصلاح رئیس په خپلو خبرو کې د امر بالمعروف لایحې په تشریح کولو سره د اتمې حوزې محتسبینو څخه غوښتنه وکړه چې د دندې په ترڅ کې ځانونه د نبي کریم (ﷺ) په اخلاقو سمبال کړي، له خلکو سره مرسته وکړي، د اختلافاتو مخه ونیسي او خپل ځانونه او نور مجاهدین د اسلامي امارت د رهبرۍ له خوا خپرېدونکو حکمونو، فرمانونو او لارښوونو باندې پوه او همدا رنګه مجاهدینو ته د جهاد فضیلتونه او اصول بیان کړی". مولوي عارف محتسبینو ته په وینا کې وویل: "د دندې ترسره کولو پر مهال له خلکو سره د مهربانۍ چلند وکړئ، د لیني موټرو چلوونکو ته سپارښتنه وکړئ چې د موسیقۍ له خپرولو څخه ډډه وکړي، د نامناسبه لباس اغوستونکې او بې حجابه مېرمنې په موټرونو کې سپرې نه کړي، د داسې مېرمنو تر ۷۸ کیلومیتره زیات واټن کې سفر وړلو څخه ډډه وکړي چې محرم و نه لري او د سفر په جریان کې د لمانځه په وخت دې موټرونه تم کړي." د یادولو وړ ده چې د اتمې حوزې محتسبینو د خپلو فعالیتونو په ترڅ کې په یاده حوزه کې له یوه شمېر کسانو او اشخاصو څخه زیاته اندازه الکولي مشروبات، مخدره او نېشه یي توکي چې پکې چرس، پوډر، ښیښه، هیروئین او بعضې نور د بېهوښه کولو دوا پاشونکي (سپریګانې) نیولي دي او د یادو توکو لېږدوونکو کسانو څخه یې ژمنه اخیستې ده چې په راتلونکي کې د شریعت او قانون خلاف دا ډول کارونو ترسره کولو څخه ډډه وکړي.

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.